پر چا چې حد جاري شو او په دنيا کې بيړنۍ سزا ورکړل شوه، نو الله تعالى لدې ډېر عادل ذات دى چې خپل بنده ته په آخرت کې دويم ځل سزا ورکړي

له علي رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «پر چا چې حد جاري شو او په دنيا کې بيړنۍ سزا ورکړل شوه، نو الله تعالى لدې ډېر عادل ذات دى چې خپل بنده ته په آخرت کې دويم ځل سزا ورکړي او پر چا چې حد جاري شو او الله يې پرده وکړه او بخښنه يې ورته وکړه، نو الله تعالى له دې ډېر عزتمند دى چې هغه څه بېرته واخلي چې يو ځل يې بخښلى دى».

[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړى دى]

نبي صلى الله عليه وسلم وايي چې چا يوه ګناه وکړه، هغه چې له امله يې پرې شرعي حد لازمېږي لکه: زنا او غلا، بيا خپله سزا وګوري او په دنيا کې پرې حد جاري شي، نو په نوموړي حد سره يې هغه ګناه پاکېږي او په آخرت کې ترې سزا لرې کېږي؛ ځکه الله تعالى لدې ډېر سخي او مهربان دى چې بنده ته دوه سزاګانې سره يو ځاى کړي، او الله چې په دنيا کې د چا پرده وکړه او په ګناه سره يې سزا ورنه کړل شوه او الله ورته عفوه او بخښنه وکړه، نو الله تعالى لدې ډېر عزتمند او سخي دى چې د هغې ګناه له امله سزا ورکړي چې يو ځل يې ورته بخښلې ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66211

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee